تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

# شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

**له حضرت ابن عمر** رضی الله عنهما **څخه روایت دئ، چي رسول الله** ﷺ **وفرمایل:** په مصارفو کي میانه روي کول د ژوند نیمه برخه ده، له خلکو سره محبت کول نیم عقل دئ او ښه پوښتنه کول نیم علم دئ. [شعب الإيمان، حدیث ٦٥٦٨]

**از حضرت ابن عمر** رضی الله عنهما **روایت شده است که رسول الله** ﷺ **فرمود:** میانه روی در مصارف نیمه پیکر از زندگی است، محبت با مردم نصف عقل است، و مطرح کردن پرسش خوب نصف علم است. [شعب الإيمان، حدیث ٦٥٦٨]

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

د مالیې وزارت

د شوال المکرم ۲۱-۱٤٤٦ل س | د وري ۳۰-۱٤۰٤ل ل | د اپریل ۱۹-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۳۸ ګڼه | ٤ مخیزه | ۱


## سرمقاله


### پروسه های تدارکات عامه در ادارات امارتی

توانایی یک حکومت در اداره بهینه امور مالی، تقریباً در تمام عرصه های دولتداری کلید کامیابی بشمار میرود. دو عامل مهم پیشرفت اقتصادی هر کشور که پایه های دولت را استحکام بخشیده و یک حکومت سالم را بوجود می آورند، یکی بیشینه ساختن درآمد و دوم جلو گیری از اصراف در مصارف عامه است. عامل اول بوسیله وضع و مدیریت درست جمع آوری انواع مختلف مالیات عادلانه و عامل دوم بوسیله صرفه جویی بجا، واقع بینانه و تخصصی در امور تدارکات صورت میگیرد. قانون تدارکات عامه از چند سال به بعد و رهنمود های تدارکاتی با بهترین شیوه های بین المللی هماهنگ است. فرایند های تدارکاتی وزارت مالیه افغانستان عموماً" شامل مراحل زیر است: نیازسنجی و برنامه ریزی، تخصیص بودجه، تهیه اسناد داوطلبی، داوطلبی باز داخلی یا بین المللی، ارزیابی و اعطا و پرداخت و نهایی سازی. با درک اهمیت و جایگاه تدارکات و قرار داد ها، جهت کنترول آن گام های جدي و عملي زیر نیاز است که برداشته شود تقویه ظرفیت کادری کارمندان تدارکاتی ادارات. ایجاد توازن و عدالت در پرداخت معاشات کارکنان تدارکاتی ادارات، بدون تبعیض و تفکیک (زیر نام ادارات کلیدی). استخدام تمام کارمندان تدارکاتی تمام ادارات، از طریق رقابت آزاد و شفاف امتحانات کمپیوتری. ایجاد معیار مناسب مشخص برای تدارکات مورد نیاز اجناس، خدمات و امور ساختمانی و جلوگیری از تدارکات غیر ضروری در ادارات امارتی. کوتاه سازی پروسه طی مراحل اسناد، به منظور دلگرمی سکتور خصوصی و منظوری قیمت نازل و کیفیت مناسب. تطبیق هرچه زودتر تدارکات الکترونیکی به منظور شفافیت بهتر و جلب اعتبار حکومت در بین مردم.

**با احترم**

**اداره**

## د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته کي مهمي پرېکړي وسوې



د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د (۱۴۰۴هـ.ل) کال د همغږۍ لومړنۍ ناسته د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد معینیت د غونډو په تالار کي تر سره او د یو لړ مهمو موضوعاتو په تړاو پرېکړي پکښې وسوې. په دغه ناسته کي د اړوندو ریاستونو د پېچلو پروسو پر ساده کولو، په ولایتي ګمرکونو کي د نفتي موادو د بار وړونکو موټرونو د ځانګړي تمځای د مشخصولو له پاره د پلاوي پر ګمارلو، د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست د کارکونکو له پاره په اسیکوډا سیستم کي د یوزرونو پر جوړولو او د ځینو نورو موضوعاتو په اړه خبري او لازمي پرېکړي وسوې. همداراز د ګمرکونو او عوایدو معین د اړوندو ریاستونو له مسئولینو څخه وغوښتل، چي د پروسږ کال عمده ستونزي معلومي کړي او د حل له پاره دې په روان کال کي اړین اقدامات ترسره کړي. نوموړي د چارو د لا ښه والي په موخه د اړوندو ادارو تر منځ د همغږۍ پر لا زیاتوالي ټینګار وکړ. د یادوني وړ ده، چي د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د ګډو همکاریو د پیاوړتیا په موخه دا ناستي جوړېږي، چي ورته ناستي به په راتلونکي کي هم دوام ولري.

## د (۵۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د نیمروز ولایت د بندر والۍ له پاره د موټرونو تمځای جوړېږي





د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري د (۵۴،۲) میلیونه افغانیو په ارزښت د نیمروز ګمرک اړوند د یاد ولایت د بندر والۍ له پاره د موټرونو تمځای د جوړولو پروژه د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید او ولایتي مسئولینو په شتون کي پیل سوه. د موټرونو دغه تمځای په شاوخوا (۴۷) جریبه ساحه کي په اساسي ډول جوړېږي، چي په جوړېدو سره به ئې د ګمرک کارکوونکو، سوداګرو او موټر چلوونکو ته په بیلابیلو برخو کي ګڼي اسانتیاوي برابري سي. د یادولو وړ ده، چي د یادي پروژې لګښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او چاري به ئې د یوه افغاني شرکت له لوري تر راتلونکو شپږو میاشتو پوري بشپړي سي.

## د ګمرکونو لوی ریاست دریو ګمرکونو ته د څه باندي (۵۲) میلیونه افغانیو په ارزښت درې عرادې کرینونه وپېرل



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست په هیواد کي د سوداګرۍ بهیر د لا چټکتیا او د سوداګریزو توکو د تخلیې او بارګیرۍ په برخه کي د اسانتیا را منځته کولو په موخه د څه باندي (۵۲) میلیونه افغانیو په ارزښت د فراه، کندهار او خوست ګمرکونو له پاره درې عرادې کرینونه وپېرل. د یادو کرینونو په پېرلو سره به په اړوندو برخو کي د سوداګرو ستونزي حل او د ملي عوایدو په زیاتوالي کي به هم اغېزمن رول ولري. د یادولو ده، چي ډېر ژر به د هیواد نورو ګمرکونو ته (۸) عرادې پېرل سوي کرینونه تسلیم او ګټي اخیستني ته وسپارل سي.




**د ګمرکونو او عوایدو معین د هیواد یو شمېر ولایتونو ته رسمي سفرونه وکړل**

م ۲




**د ګمرکونو لوی رئیس د تورخم په ګمرک کي د راستنېدونکو کډوالو له پاره د ګمرکي اسانتیاوو پر رامنځته کېدو ټینګار وکړ**

م ۲



**د سپین بولدک په ګمرک کي د راستنېدونکو کډوالو له پاره ځانګړې لاره پرانیستل سوې ده**

م ۲



**د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست او د دې وزارت د اجرائیه مدیرانو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه**

م ۲



**آیا فرصت سرمایه گذاری در افغانستان فراهم شده؟**

م ۳



**ایراني پلاوي د خواف - هرات اورګاډي پټلۍ د پراختیا، ټرانزیټ او سوداګریزي ودې په نیت افغانستان ته سفر وکړ**

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

# د ګمرکونو او عوایدو معین د هیواد یو شمېر ولایتونو ته رسمي سفرونه وکړل

د ماليې وزارت د ګمرکونـو او عوایـدو معیـن الحـاج مفتي عبدالمتیـن سـعید د یـو شـمېر ولایتي ګمرکونو، مسـتوفیتونو او اړونـدو ادارو ترمنـځ د لا همغـږۍ رامنځتـه کولـو پـه موخـه ولایتـي سـفرونه تـرسره او د دغـو ادارو چـاري ئـې لـه نـږدې و ارزولـې.

د ګمرکونـو او عوایـدو معیـن د کندهـار، هلمنـد، نیمـروز، فـراه، هـرات، زابـل او غـزني ولایتونـو ګمرکونـو او مسـتوفیتونو تـه د خپلـو رسـمي سـفرونو او لیدنـو پـه تـرڅ کـي د یـادو برخـو مسـئولینو تـه پـه پـوره صداقـت او ایمانـداری سره د اړونـدو چـارو د تـرسره کولـو، پـر وخـت سره د مراجعینـو سـتونزو تـه د رسـېدو او لـه هغـوی سره د نېـک چلنـد، پـه چـارو کـي د اړینـي همغـږۍ او همـکارۍ رامنځتـه کولـو او یـو شـمېر نـورو برخـو کـي لازمـي سپارښـتني وکـړې.

د ولایتـي سـفرونو پـه دې لـړۍ کـي د ګمرکونـو او مسـتوفیتونو مسـئولینو هـم خپـلي غوښـتني او سـتونزي لـه مشرتابـه سره شریکـي کـړې او همداشـان ئـې ژمنـه وکـړه، چـې د رهـبرۍ ټـولي سپارښـتني بـه پـر خپـل وخـت او ښـه توګـه عمـلي کـوي. بلخـوا د ګمرکونـو او عوایـدو معیـن هـم یـادو مسـئولینو تـه ډاډ ورکـړ، چـې غوښـتنو او سـتونزو تـه بـه ئـې سـته امکاناتـو تـه پـه کتـو پـه اصولي ډول رسـېدنه وسي.



# د ګمرکونو لوی رئیس د تورخم په ګمرک کي د راستنېدونکو کډوالو له پاره د ګمرکي اسانتیاوو پر رامنځته کېدو ټینګار وکړ

د ماليې وزارت د ګمرکونـو لـوی رئیـس الحـاج مولـوي محمـد حامـد احمـد، چـې پـه رسـمي سـفر ننګرهـار ولایـت تـه تللـی، هلتـه ئـې د ولایتـي مسـئولینو پـه ملتیـا د دغـه ولایـت د ګمـرک لـه چـارو څخـه د لیـدني تـر څنـګ، پـه تورخـم کـي د راسـتنېدونکو کډوالـو د راستنېدني بهیـر څخـه لـه نـږدې لیدنـه وکـړه.

د ګمرکونـو لـوی رئیـس لـه پاکسـتان هیـواد څخـه پـه جـبري ډول د را ایسـتل سـویو هیوادوالـو لـه پـاره د ګمرکـي اسـانتیاوو د رامنځتـه کولـو پـه موخـه د تورخـم ګمـرك مسـئولینو تـه لازمـي سپارښـتني وکـړې، څـو راسـتنېدونکي هیـوادوال پـه اړونـدو برخـو کـي لـه کومـي سـتونزي سره مـخ نـه سي.




د تورخـم ګمـرك مسـئولینو پـه دې برخـه کـي د لازمـو اسـانتیاوو د رامنځتـه کولـو کلـك هـوډ څرګنـد کـړ او هیـواد تـه د کډوالـو د هوسـا راسـتنېدني پـه موخـه ئـې د هـر اړخیـزي همکارۍ بشـپړ ډاډ ورکړ.

# د سپین بولدک په ګمرک کي د راستنېدونکو کډوالو له پاره ځانګړې لاره پرانیستل سوې ده



د ماليـې وزارت د ګمرکونـو لـوی ریاسـت د رهـبرۍ د هدایـت پـر بنسـټ د کندهـار ګمـرك رئیـس الحـاج مولـوي سـفر محمـد سـحر د کندهـار ولایـت سـپین بولـدك ګمـرك تـه سـفر وکـړ او هلتـه ئـې د راسـتنېدونکو کډوالـو د راسـتنېدني بهیـر لـه نـږدې وڅـاره.

د سـپین بولـدك پـه ګمـرك کـي لـه پاکسـتان څخـه د جـبري را ایسـتل سـویو هیوادولـو لـه پـاره ګڼـي اسـانتیاوي برابـري سـوي دي. پخـوا بـه راسـتنېدونکي کـډوال مکلـف ول، چـې د راتـګ پـر مهـال ګمرکـي پارچـه واخـلي، چـې د پارچـې اخیسـتل د دوی د سر ګردانـۍ سـبب ګرځېـده. اوس مهـال د مسـئولینو پـه هدایـت د یـادي پارچـې اخیسـتل لغـوه سـوي او تـر څنـګ ئـې د راسـتنېدونکو کډوالـو لـه پـاره پـه دغـه ګمـرك کـي ځانګـړې لاره پرانیسـتل سـوې ده؛ څـو کډوالـو تـه د هوسـا راسـتنېدني زمینـه برابـره سي.

د یادولـو وړ ده، چـې د ګمرکونـو لـوی رئیـس هـم تورخـم ګمـرك تـه سـفر وکـړ او هلتـه ئـې د راسـتنېدونکو کډوالـو د راسـتنېدني بهیـر لـه نـږدې وڅـارل او د لا اسـانتیا رامنځتـه کولـو پـه موخـه ئـې اړونـدو مسـئولینو تـه لازمـي سپارښـتني وکـړې.

# د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست او د دې وزارت د اجرائیه مدیرانو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه



د دعـوت او ارشـاد ریاسـت د اسـتازو او د ماليـې وزارت د اجرائیـه مدیرانـو ترمنـځ د لا زیـاتي همـکارۍ او همغـږۍ پـه موخـه د همغـږۍ ناسـته وسـوه.

پـه دې ناسـته کي د ماليـې وزارت د مـالي او اداري چارو سـتر سـلاکار مولـوي احمـد شـاه شـاکر، د دعـوت او ارشـاد رئیـس مولوي عبدالهادي سیف لخالـد، د دعوت او ارشـاد ریاست اجرائیـه مدیـر مفتـي سـمیع الله ایوبي او د وزارت نـورو اجرائیـوي مدیرانـو ګـډون کـړی وو.

د ماليـې وزارت مـالي او اداري سـتر سـلاکار پـه خپلـه وینـا کـې وویـل، "متقـي اوسـئ او خپلـو همکارانـو تـه د ښـو کارونـو نصیحـت وکـړئ." پـه نیکـۍ امـر کـول او لـه بـدۍ منع کـول یـوازي د دعـوت او ارشـاد دنـده نـه ده؛ بلکـي د هـر مسـلمان مسـئولیت او مکلفیـت هـم دئ، ترڅـو لومـړی ځـان لـه اسـلامي شریعـت او اصولـو سره سـم سـمبال کـړئ او بیـا نـورو تـه پـه دې اړیـن امـر توصیـه وکـړي.

د دعـوت او ارشـاد ریاسـت اجرائیـه مدیـر وویـل، چـې د نـن ورځـي غونـډې موخـه د دعـوت او ارشـاد لـه ریاسـت سره د لا زیـاتي همغـږۍ رامنځتـه کـول، د اجرائیـه مدیرانـو لخـوا لـه کارکوونکـو سره د درسي مـوادو شریکـول، لـه اجرائیـوي مدیرانـو سره یـوه متحده او منظمـه همغـږي رامنځتـه کـول، د دعـوت او ارشـاد ریاسـت د مکتوبونـو ځـواب وړاندي کول، دې ریاسـت تـه فعـال کارکوونکـي معـرفي کـول، او پـه ټولیـز ډول ورسـپارل سـوي چاري پـه اغېزمنـه توګه پرمـخ وړل دي.

د دعـوت او ارشـاد رئیـس پـه خپلـه وینـا کـي وویـل، "د دعـوت او ارشـاد لـه ریاسـت سره مرسـته وکـړئ." لـه مراجعینـو سره ښـه چلند وکـړئ، خپلي دنـدې او د خلکو کارونـه پـه ښـه توګـه پرتـه له ځنډه تـرسره کـړئ او هڅه وکـړئ، چـې پـه نرمـه ژبـه اصلاحـات رامنځتـه کـړئ.

د یـادوني وړ ده، چـې د دعـوت او ارشـاد ریاسـت د کارکونکـو لـه پـاره د دوی د پوهـي لـه کچـي سره سـم د روزنیـزو پروګرامونـو رامنځتـه کولـو، د قـرآن کریـم د ژبـاړې او تفسـیر کولـو، د کارکوونکـو د دینـي او علمـي پوهـاوي کچـي لوړولـو، د امیرالمؤمنیـن (حفظـه اللـه) د لارښـوونو، فرمانونـو او احکامـو تطبیـق او امر بالمعـروف و نهـی عـن المنکـر وزارت پـه ادارو کـي د هـر اړخیـزو اصلاحاتـو راوستلو مسـئولیت لري.

# د عوایدو او ګمرکونو لویو ریاستونو نویو ګومارل سویو کارکوونکو ته "په امارتي ادارو کي عملي مدیریت" تر سرلیک لاندي روزنیز پروګرام ترسره سو



د ماليـې وزارت د کارکوونکـو چـارو ریاسـت د عوایـدو او ګمرکونـو لویـو ریاسـتونو نویـو ګومـارل سـویو کارکونکـو لـه پـاره "پـه امـارتي ادارو کـي عمـلي مدیریـت" تـر سرلیـك لانـدي روزنیـز پروګـرام تـرسره کـړ.

پـه دې تـړاو ناسـته، چـې د عوایـدو او ګمرکونـو د ملي اکاډمـۍ د غونـډو پـه تـالار کـي جـوړه سـوې وه، د ګمرکونـو لـوی ریاسـت د قانـون پـلي کولـو رئیـس ښـاغلي حافـظ حـضرت عـلي، د کارکوونکـو چـارو ریاسـت د اسـتخدام آمـر مفتـي نیـاز محمـد منصـور، د دعـوت او ارشـاد ریاسـت اسـتازي مولـوي وصیـف احمـد احمـدي او یو شـمیر مسـئولینو ګـډون کړی وو.

د کارکوونکـو چـارو ریاسـت د اسـتخدام آمـر وویـل، چـې د دې پروګـرام پـه کارولـو سره، کـولای سـئ، چـې څنګـه کارونـه پـه اصـولي او معیـاري ډول تـرسره کـړئ او لـه وزارت سره د خپـل هـدف پـه ترلاسـه کولـو کـي مرسـته وکـړئ؛ نـو پـه دقـت او زیـار سره ئـې وکاروئ او هغـه څـه چـې تاسـو زده کـوئ د عمـل پـه ډګـر کـي ئـې پـلي کـړئ.

د ګمرکونـو لـوی ریاسـت د قانـون پـلي کولـو رئیـس پـه خپلـو خبرو کـي وویـل، چـې دا پروګـرام د نظام د سـاتني او بقـا پـه موخـه تـرسره سـوی دئ او تاسـو د دې نظـام د خدمتګارانـو پـه توګـه، دا پروګرامونـه پـه احتیـاط، اخـلاص او ژمنتیـا سره تعقیـب او پـلي کـړئ.

د دعوت او ارشـاد ریاسـت اسـتازي وویل، چـي تاسـو د دې نظـام لـه امتیاز څخه ګټه اخلئ او تاسي مکلف یاسـت، چـي قوانیـن ئـې پـلي کـړئ. لـه همـدې کبلـه لـه مراجعینـو سره ښـه چلنـد وکـړئ، خپلـو دنـدو تـه ژمـن او لـه وظیفـوي غفلـت څخـه مخنیـوی وکـړئ.

د یـادوني وړ ده، چـې یـاد پروګـرام بـه (۱۵) ورځـي وغځېـږي او پـه هغـه کـي بـه ګډونوالـو تـه د پـلان جـوړوني، سـازماندهي، رهـبرۍ، د انسـاني، مـالي، طبیعـي او اطلاعـاتي منابعـو کنټـرول، د پـروژو مدیریـت، د خطـر مدیریـت، امانتـداري او د نـورو موضعاتـو پـه تړاو روزنه ورکـړل سي.

# د پکتیا مستوفیت نویو مقرر سویو کارکوونکو ته د سیګټاس سیستم روزنیز پروګرام پیل سو

د ماليـې وزارت د عوایـدو لـوی ریاسـت لـه لـوري د پکتیـا مسـتوفیت د عوایـدو د برخـي نویـو مقـرر سـویو کارکوونکـو تـه د ظرفیـت لـوړوني پـه موخـه د سـګټاس سیسـټم د غـوره کاروني شـل ورځنـی روزنیـز پروګـرام پیـل سـو.

پـه دغـه روزنیـز پروګـرام کـي بـه د سـګټاس سیسـټم درې ګروپونـه او (۱۷) ماډلونـه پـه هـر اخیـز ډول یـادو کارکوونکـو تـه تشریـح سي، چـې دا بـه لـه مالیـه ورکوونکـو څخـه د مالیاتـو د پـر وخـت، دقیـق او رښـې راټولـوني او پـه اړونـدو برخـو کـي د لا ډېـرو اسـانتیاوو د رامنځتـه کېـدو لـه پـاره اغېزمنـي پایـلي ولـري.

د یادولـو ده، چـې د ماليـې وزارت عـصري سیسـټمونو جوړولـو او پـلي کولـو تـه لومړیتـوب ورکـړی دئ؛ څـو اړونـدي مـالي چـاري لـه کـوم ځنـډ پرتـه پـه شـفاف ډول ترسره سي.



SHTAMANI
اوونیزه

# آیا فرصت سرمایه گذاری در افغانستان فراهم شده؟

سیدالهام سادات کارشناس تحلیل پالیسی های حکومتداری و خدمات معینیت پالیسی

امارت اسلامی افغانستان زمینه خوبی برای سرمایه گذاری در داخل افغانستان فراهم کرده است و در ضمن سرمایه گذاری ایجاب زمینه خوب برای فرصت های شغلی، صنعت دست دوزی، قالین بافی و نساجی که اهمیت فراوان در راستای صنعت و تجارت دارد مورد بحث قرار می گیرد. و همچنان مسئولین محترم امارت ادعا معقول دارند که زمینه خوبی برای سرمایه گذاری در داخل افغانستان فراهم شده است. نظام کنونی اسلامی افغانستان تلاش می‌کند تا افغانستان را به مرکز تجارتی منطقه و جهان تبدیل کند. امارت اسلامی برای تاجران و سرمایه گذاران سهولت‌های اساسی را نیز فراهم کرده است. سرمایه گذاران افغان تاکید دارند که زمینه سرمایه گذاری در افغانستان باید از این بیشتر وسعت پیدا کند و چالش های جدی در این زمینه کاملاً مهار و از بین برده شود. جلب سرمایه گذاری نیازمند تعامل کشورهای منطقه و جهان برای ارتباط خوبی تجارتی و صنعتی در راستای بهبود وضعیت اقتصاد کشور با در نظرداشت مؤثریت و مثمریت اقتصادی و مطلوبیت مردم کشور عزیز ما افغانستان به کالاهای گوناگون است

**چرا بعضی کشور ها به سرمایه گذاری در افغانستان علاقه مند هستند؟**

سرمایه گذاری نیازمند نیروی کار متخصص، سیستم بانکی قوی، وجود تعامل خوب و روابط حسنه کشورها با افغانستان است که در حال حاضر باید به افغانستان توجه زیادی صورت گیرد. امنیت موضوع اهم و کلیدی برای سرمایه گذاران میباشد که از سوی مسئولین محترم امارت اسلامی افغانستان ایجاد گردیده است که باید به سایر مولفه های سیاسی در کنار امنیت همه مردم ارزش قایل شوند .

**سهم دادن به تمام اقشار در عرصه کار و تجارت:**

در راستای این که به تمام اقشار جامعه در عرصه کار دست دوزی، قالین بافی و صنعت نساجی در کشور به بسیار روش سهل از طرف امارت اسلامی افغانستان زمینه سازی گردد تا باعث پیشرفت در صنعت و تجارت کشور ما گردد و هم بتوانیم صادرات را به گونه گسترده به سایر کشورها داشته باشیم .

**معلومات عمومی راجع به سرمایه گذاری خارجی:**

هر کشور برای ارتقای توانمندی ها و دستاورد های خود به دنبال انجام سرمایه گذاری در بخش های مختلف اقتصادی است و موضوعی که باعث شده تا دولت ها سیاست های تشویقی برای جذب سرمایه های موجود در کشور هایشان برای سرمایه گذاری در زیر ساخت ها انجام دهند و به انجام این کار تلاش های مختلف در سطوح جهانی صورت گرفته و دولت ها به دنبال اقداماتی هستند که سرمایه گذاران خارجی را تشویق نماید تا در کشور آنها سرمایه گذاری کنند. این موضوع در کنار استفاده از سرمایه های افراد مقیم آن کشور در خارج از مرز ها سبب خواهد شد تا کشور ها بتواند از رشد اقتصادی بیشتر از طریق افزایش در بهره وری سرمایه و نیروی کار برخوردار شوند.

**سرمایه خارجی و انواع روش های آن:**

جریان ورودی سرمایه خارجی عامل مهم در رشد و توسعه اقتصادی رفع شکاف پس انداز سرمایه گذاری انتقال تکنالوژی، دانش فنی و شیوه های نوین مدیریتی محسوب می شود. منابع مالی خارجی به عنوان مکمل منابع سرمایه گذاری داخلی است و یکی از راه های ورود منابع ارزی به داخل کشور میزبان است. اشکال مختلف جذب ورود سرمایه خارجی عبارتند از:

۱-سرمایه گذاری مستقیم خارجی

۲-درآمد های انتقالی شخصی

۳-کمک های رسمی توسعه ای

٤-سرمایه گذاری پرتفولیوی خارجی

هدف پرتفولیو بررسی و امکان سنجی سرمایه گذاری در کشور میزبان را گویند، که به اساس مطالعات و امکان سنجی صورت میگیرد.

**تعریف روش های مختلف برای جذب سرمایه خارجی:**

سرمایه گذاری مستقیم خارجی آن نوع از سرمایه گذاری است که متضمن روابط اقتصادی بلند مدت و نشان دهنده منافع پایدار و کنترول واحد اقتصادی مقیم یک کشور است. در تعریف دیگر سرمایه گذاری خارج از کشور به وسیله یک شرکت مستقر در کشور که مشغول به فعالیت است.

**درآمد های انتقالی شخصی:**

درآمد افراد وکارگران مهاجر و غیرساکن در کشورهای خارجی است که برای خانواده ها و اقوام خود ساکنان کشور میزبان هستند فرستاده می شود. به عبارت دیگردرآمد های انتقالی به عنوان انتقال پول از راه های غیر مستقیم یک فرد که در خارج از کشور کار میکند برای نزدیکان و دوستان فرستاده می شود. اهمیت جذب سرمایه خارجی برای کشور: یکی از مشکلات که کشور های در حال توسعه همواره با آن مواجه بوده اند کمبود سرمایه در کشور است که یکی از راه حل های آن فایق آمدن بر این مشکل استفاده از سرمایه های انباشته شده در کشورهای توسعه یافته است. ورود سرمایه گذاری مستقیم خارجی به کشورهای در حال توسعه می تواند سرمایه مورد نیاز رشد و توسعه اقتصادی این کشور ها را تامین نماید علاوه بر این برای کشورهای توسعه یافته نیز به منظور حفظ افزایش تولید و رشد اقتصادی خود سعی در جذب سرمایه های خارجی دارند.

**مزایا و مشکلات:**

زمانیکه به هدف کسب منفعت در کشور تلاش صورت میگیرد، مزایای بسیاری را برای کشور میزبان ایجاد می کند که این مزایا عبارتند از انباشت سرمایه فیزیکی، انتقال و استفاده از فناوری توسعه صادرات، افزایش ذخایر ارزی، بهبود و تراز پرداخت ها، فرصت های تجاری جدید، افزایش درآمد های مالیاتی دولت، افزایش قدرت رقابت، نوآوری، افزایش اشتغال، افزایش ظرفیت تولید، در نهایت افزایش رشد اقتصادی با وجود مزایای که برای سرمایه خارجی ذکرشده است. اما چالش های نیز برای آن وجود دارد که عبارتند از: از بین بردن رقابت در بازارهای کشور میزبان، واردات مواد واسطه ای از کشورهای دیگر و عدم خرید این محصولات از شرکت های داخلی و ایجاد نوعی وابستگی برای کشور ها، عدم پرداخت مالیات به واسطه معافیت های که از سوی کشور برای تشویق جذب سرمایه خارجی صورت می گیرد و این موضوع سبب ایجاد تبعیض در بین شرکت ها تحت تاثیر قراردادن عدالت دریافت مالیات می شود. از طرفی هم ممکن است ورود سرمایه خارجی باعث انتقال تکنالوژی نشود و تزریق سرمایه برای استفاده از نیروی کار ارزان کشورهای در حال توسعه و کسب سود برای خود شرکت باشد همچنین جذب چنین سرمایه ای باعث خواهد شد تا توزیع در آمد در کشور با نابرابری بیشتر مواجه شود و افراد شاغل در شرکت های تاسیس شده با سرمایه خارجی نسبت به سایر کسانیکه مشغل اند از درآمد بیشتر برخوردار شوند. در مورد درآمد های انتقالی نیزمزایا برمعایب موجود غلبه دارند و این نوع جذب سرمایه مورد توجه کشورها بوده است.

ادامه مقاله در شماره بعدی....

# اعلانات داوطلبی

## تصحیح اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه (۵) جایداد امارتی واقع ناحیه اول و (١٦) شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، برای مدت (۳) سال.

۱ .یک باب هنگر نیمه مخروبه معه دو باب اطاق به مساحت مجموعی (۴٦۵.۷) متر مربع واقع داخل محوط نساجی بگرامی مربوط ناحیه (١٦) شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۰۳۴) افغانی.

۲. موازی (۵۸٦۵.۸) متر مربع زمین چهار دیواری شامل چهار باب اطاق به شکل یک منزله واقع داخل محوط فابریکه نساجی بگرامی همجوار شرکت ساعت سازی مربوط ناحیه (١٦) شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۳۵٦۷٦) افغانی.

۳. یک باب هنگر به شکل نیمه مخروبه معه دو باب اطاق به مساحت (۴۳۸) متر مربع واقع داخل محوط نساجی بگرامی همجوار شرکت ساعت سازی مربوط ناحیه (١٦) شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۱۳۱۸) افغانی.

٤. یک باب هنگر دو منزله نیمه مخروبه به مساحت (۷۳۴) متر مربع واقع داخل محوطه فابریکه نساجی بگرامی مقابل شرکت کارتن سازی مربوط ناحیه (١٦) شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۸۳۵۰) افغانی کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,٢٤٧٨٣٤-٣٤,٥٠٥١٠٥

۵. یک باب دوکان به مساحت (٦۳.۳۵) متر مربع واقع منزل اول تعمیر اسبق خزینه تقاعد سینمای پامیر مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبغل (۲۳۲۰۰) افغانی.

کوردینات (جی. پی. اس): ٦٩,١٧٢١٩-٣٤,٥١٣٤٢

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ (۱۴۰۴/۰۱/۲۰ الی ۱۴۰۴/۰۲/۰۹ به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر (۱۴) منزله، منزل ۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرارداد های مرکزی.

تاریخ مجلس داوطلبی:١٤٠٤/٠٢/١٠ به ساعت (١٠:٠٠) قبل از ظهر برگزار میگردد

## اعلان مزایده

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه موازی(٤٩٤١,١) مترمربع زمین احاطه شده بنام کمپلکس ورزشی که درآن چهار باب تعمیر یک منزله و دومنزله، سه باب اطاق خامه، چهار باب دوکان آیسکریم فروشی و یک حلقه چاه آب نیز میاشد واقع کابل ننداری مربوط ناحیه (١٦) شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٦٠٠٠٠٠ ) افغانی به شکل آفر سربسته به اعلان مزایده می سپارد، مدت(۳) سال.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)
٦٩,١٩٧٧٤٠ ٣٤,٥١٨٢٢٠

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ( ۲۴/ حمل/ ۱۴۰۴ الی ٦/ حمل/ ۱۴۰۴) به مدت (١٤) روز به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ١٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینما پامیرتعمیر١٤منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز،

شماره تماس-
۰۲۰۲۹۲٤٦٢٤۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷،

تاریخ مجلس داوطلبی: ۰۷/ حمل/۱۴۰۴ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ښار لومړۍ، څلورمي، پنځمي او (۱۱) مي ناحیو اړوند (۸) بابه دوکانونه په جلا جلا ډول د ازادي داوطلبۍ له پاره اعلان ته وړاندي کوي.

۱. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند یو باب (۱۷۴) نمبر دوکان چې (۲،۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۷۱٦٦,٦) افغانۍ ده، د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

۲. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند یو باب (۱۷۵) نمبر دوکان چې (۲،۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۷۲۰۳,۳) افغانۍ ده، د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

۳. د ظاهر شاهي مارکیټ اړوند یو باب (۱۵۸) نمبر دوکان چې (۸،۳۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲٤۰۱۰) افغانۍ ده، د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٧٧٥٦ -٣٤,٥١٧١

٤. د کابل ښار (۱۱) مي ناحیې اړوند د (۱۰) مي مغازې یو باب (۹) نمبر دوکان چې (۷،۲۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤٧٤٣٣,٣) افغانۍ ده د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

۵. د کابل ښار (۱۱) مي ناحیې اړوند د (۱۰) مي مغازې یو باب (۸) نمبر دوکان چې (۸،۴) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۵۹٦۰۰) افغانۍ ده د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٣٨٩٨ - ٣٤,٥٧٨٩٢

٦. د کابل ښار لومړۍ ناحیه اړوند د سینما پامیر (۱۴) پوړیزې ودانۍ لومړي پوړ کي یو باب (۲۱) نمبر غرفه چي (۸،۹۳) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۸۹۷۰) افغانۍ ده د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکوي.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٧٢١٩ - ٣٤,٥١٣٤٢

۷. د کابل ښار (۵) مي ناحیې اړوند کوټه سنګي کي د نظیف مارکیټ یو باب (A۳۹-٤۰) دوکان چې (۳٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١١٧٤٦ - ٣٤,٥١٥٢٧٢

۸. د کابل ښار (۴) مي ناحیې اړوند دریم پروان په (۱۴)کوڅه کي یو دربند حویلۍ چي (۴) خونې بدون د کړکیو چي (۲۸۱،۸۷) متره مربع مساحت لري او همدارنګه یوه حلقه څاه چي کوټه ئې په پیاده رو کي موقعیت لري او (۲۷،٦٦) متره مربع مساحت لري چي میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦۳۰۰) افغانۍ ده د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکوي.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٣١٥٣ ٣٤,٥٤٣٦٢

هغه حقیقي او حکمي اشخاص چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۴/ حمل/ ۲۱ نیټې څخه وروسته د ۱۴۰۴/ حمل/۲۷) مي نیټې پوري د امارتي املاکو لوی ریاست تسلیم او شرطپاڼه تر لاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نیټه: د ( ۱۴۰۴/ حمل/۲۸) نیټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)

د شوال المکرم ۲۱-۱۴۴۶ل س | د وری ۳۰-۱۴۰۴ل ل | د اپریل ۱۹-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۳۸ ګڼه| ٤ مخیزه



# Spin Boldak Customs Opens Special Laneway for Returnees After Tables Repatriation Facilities

The Director of Kandahar Customs, Alhaj Maulawi Safar Mohammad Sahar traveled to Spin Boldak Customs in Kandahar Province. According to the General Directorate of Customs of MoF, Maulawi Sahar was entrusted to closely monitor the repatriation process of returnees. Several facilities have been provided at Spin Boldak Customs for the repatriation of those forcibly deported from Pakistan. Previously, returnees were required to obtain customs slip upon arrival, which was a kind of wandering action for them, officials stated. Under the guidance of the authorities, the obtaining of the said customs slip has been canceled and a special lane has been opened for returnees at Spin Boldak Custom in order to ease arrival process. Notably, the General Director of Customs has also visited Torkham Customs, where he closely monitored the returning process of returnees, and made necessary recommendations to the relevant authorities for facilitating the repatriation.



# General Director of Customs Emphasizes Providing of 'Customs Facilities' for Returnees at Torkham Customs as Forcibly Deported by Pakistani Government



The General Director of Customs of MoF, Alhaj Maulawi Mohammad Hamid Ahmad with accompanied provincial officials visited officially the customs affairs of Nangarhar province, and closely inspected the process of returnees at Torkham. Maulawi Ahmad made necessary recommendations to the officials of Torkham Customs in order to provide customs facilities for compatriots who have been forcibly deported from Pakistan; therefore returnees may not face any obstacles in the relevant areas. Officials of Torkham Customs expressed their determination firmly for providing the necessary facilities in this regard, and assured full cooperation about the easily arrival of returnees to Afghanistan.




## ایراني پلاوي د خواف - هرات اورګاډي پټلۍ د پراختیا، ټرانزیټ او سوداګریزې ودې په نیت افغانستان ته سفر وکړ



تهران ټایمز – TEHRAN TIMES راپور ور کوي، چې ایراني پلاوي افغانستان ته د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په خاطر سفر وکړ. وایي د دې پلاوي اصلي تمرکز پر «خواف – هرات» رېل پټلۍ او هم د فراه د ماهي رود لارې نور پرمختګ دئ، چې تر څنګ ئې د دوه اړخیزو ټرانسپورټي زیربناوو او ټرانزیټي ننګونو حل هم دئ. ورپسې داسې لیکي: د اورګاډي دا مهم سیمه ییز دهلېز، چې ختیځ ایران له لوېدیځ افغانستان سره وصلوي، له اوږدې مودې راهیسې د سیمه ییزې سوداګرۍ او ازادو اوبو ته د افغانستان د لاسرسي له پاره د یوې مهمې اړیکې په توګه لیدل کېږي. په پلاوي کې د سید عبدالله په نوم غړي ټینګار وکړ، چې د اروپا بازارونو او ازادو سمندرونو ته د لاسرسي له پاره د افغانستان ستراتیژیکه اړتیا د ایران له پاره یو فرصت دئ. راپور نه یوازې دا چې د «خواف – هرات» اورګاډي پټلۍ په تړاو بحث کوي؛ بلکې وایي پلاوي د ایراني خصوصي شرکتونو له پاره د افغانستان په بیارغونه کې هم خپل ځای اړین وګاڼه او په ټول افغانستان کې په استوګنیزو پروژو کې د ایراني شرکتونو د ښکېلتیا په اړه بحثونه و سول. د «خواف – هرات» اورګاډي پټلۍ د بشپړتیا په تړاو وایي، چې د دې پټلۍ عملیات کولای سي د ایران د چابهار او بندر عباس بندرونو له لارې له نړیوالو بازارونو سره د افغانستان په وصلېدو کې بدلون راوړونکی رول و لوبوي. تهران ټایمز په وروستیو کرښو کې زیاتوي، چې دا سفر اقتصادي ښکېلتیا پیاوړې کړې او د محدودو سرحدي لارو په اوږدو کې د افغانستان سوداګریز انحصار کموي.

## د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسیدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰/ ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af